

دستگیر روشنیالی

## بشری حقونه،  د ما او تا حقونه!

## بشری حقونه،  د هر انسان حقونه!

**هر مسلمان انسان دی، خو هر انسان مسلمان نه دی. هر هندو انسان دی، خو هر انسان هندو نه دی. هر عیسوي انسان دی، خو هر انسان عیسوي نه دی. هر تور پوستی انسان دی، خو هر انسان تور پوستی نه دی...  انسانان د دیني، قومي، نژادي ... توپیرونه په اساس یو بل ته د بیگانه په سترگه گوري، خوهیڅ مسلمان، هیڅ هندو، هیڅ عیسوي د انسان له مفهومه بیگانه نه دی او په همدي بنیاد "انسان" باید معیار وي.**

په دوهمه نړیواله جگړه کي د نژادي، دیني، سیاسي... لاملونو په بنیاد له پنځوسو میلیونو زیات انسانان ووژل شول. په جاپان کي یوه امریکایي اتمي بم د اته سوه زرو انسانانو ژوند واخیست. دي پیښو په کلکه انساني وجدان ته ټکان ورکړ او د بشري حقونو د ساتلو اندیښنه یي په ساري توگه پیاوړي کړه.  بشري حقونه د انسان پالني د اندیښني وده او پراختیا دی او نه باید په نژادي، مذهبي، جنسي اوفرهنگي دلیلونو انسانان له حقونو محروم شي.

انسانان او په تیره بیا ښځه  دهغو دودونو، اصولو، ارزښتونو... قرباني دي، کوم چي بشري حقونو ته نسبي او محلي بڼه ورکړي او د واکمن فرهنگ تابع یي وگرزوي. پداسي حال کي چي د بشري حقونو په اعلامیه کي د انسان حقونه نړیوال او نه ویشونکي تعریف شوي دي، کوم چي  نه د فرهنگ، نه د قوم، نه د نژاد، نه د دین، نه د ایدیولوژي ... په وسیلو نسبي او محلي کیداي شی او نه هم په دي معیارونو ویشل کیږي.

د بشري حقونو اعلامیه  نه انسانان په اصل او فرع ویشي او نه هم انسانان په اصل او کم اصل له یو بله جلا کوي. بشري حقونه نه شرقي دي او نه غربي.  همدارنگه بشري حقونه نه امریکاي دي او نه چینایي. همدارنگه بشري حقونه نه اسلامي دي او نه عیسوي... د بیلگي په توگه د بشري حقونو د اعلامیي په یویشتمه ماده کي ویل کیږي:

**" هر څوک حق لري، په خپله او یا په ازاده توګه د ټاکل شوو استاذو پوسیله د خپل هیواد په حکومت کي برخه واخلي..."** د بشري حقونو د اعلامیي دا حکم څه ډول امریکایي او یا چینایي او یا هم اسلامي او عیسوي کیداي شي؟ دا حکم د ځمکي د کري د ټولو اوسیدونکو انسانانو د ارادو اوغوښتنو انعکاس دی.

**انسانان یو شان حقونه لري.**

بشري حقونه یو لوی او نړیوال انقلاب دی. یو پیاوړی، یو ورو، یو بریالی، یوله هر ډول خشونت خلاص او یو شا ته نه ګرزیدونکی انقلاب، کوم چي د هر انسان او انساني کرامت درناوی او ساتنه کوي. دا انقلاب پیل شوی، دا انقلاب پایلي لري. بشري حقونو د ټولو نړیوالو د پاملرني په مرکز کي دي او نن بشري حقونه د دنیا تر ټولو مهمه موضوع دی. نن همدا بشري حقونه دي چي دولتونو او حکومتونو ته مشروعیت ورکوي.

له دي انقلاب سره ضدیت د هري ورځي په تیریدو سره په شا تګ ته اړکیږي او دا انقلاب به هرومرو د انسانان او په ځانګړي توګه د ښځو په ژوند کي ژورو بدلونونه را منځ ته کړي او همدا انقلاب به انسان ته انسانیت ، کرامت، شخصیت، هویت او درناوی را وګرزوي.

بشري حقونو د اول ځل له پاره انسان ته دا امکان ورکوي چي د تبعیض په وړاندي د دولتونو بي تفاوتي چلنج کړي او یو په بل پسي تابوګان او افسانوي محدودیتونه مات او بي باوره کړي. بشري حقونو د برابري له پاره د انسانانو مبارزه نړیواله کړي او ټول انسانان حق لري چي یو ارزښت لرونکي ژوند ولري.

بشري حقونه د انسانانو د برابري انقلاب دي، په کوم کي چي یو انسان له بل انسان برتر نه دی. انسانان یو شان او یو شان حقونه لري او ښځه هم انسان دی. انسان یو نړیوال مفهوم دی. انسان بي له دي چي د ځمکي د کري په کومه برخه کي ژوند کوي، په کومه ژبه خبري کوي او د کوم دین پیرو دی د لویي انساني کورنی یوغړی شمیرل کیږي.

د بشري حقونو د اعلامیي په اوله ماده کي ویل کیږي:

**" ټول انسانان ازاد خلق شوي او په کرامت او حقوقو کي سره برابر دي. دوي د عقل او وجدان څښتنان دي او یو د بل په مقابل کي باید د ورورګلوي په روحیه رفتار وکړي"**

د بشري حقونود اعلامیي په پنځمه ماده کي ویل کیږي؟

**" هیڅوک د شکنجي یا ظالمانه غیر بشري یا توهین کونکي معاملي یا مجازاتو موضوع کیداي نشي"**

همدا بشري انقلاب کولاي شي په ټولنه کي د انسان او انساني کرامت ضد دودونه، اصول... بي باوره کړي، له ټولنیز چلند یي و باسي او فرهنګي ځانګړتیا ورڅخه واخلي.

دا انقلاب د انسانانو تر منځ ګډ حس او ګډي غوښتني پیاوړي کوي او هغوي سره نږدي کوي چي د فکرونو او تګلارو په مرکز کي یي انسان دی. دي انقلاب ډیر شیان له بنیاد بدل کړي او بدلویي او د هرځانګړی انسان له شخصیت او هویت سره مرسته کوي او ددي انقلاب بری د دموکراسي په واکمني کي ده.

نړیوال کیدل د بدلونونو په یوه پیاوړي منبع بدله شوي ده. نړیوال کیدلو نه یوازي سیاست، اقتصاد، فرهنګ بلکي د وګړو ذهنونو او چلندونه یي هم په ژوره توګه متاثیرکړی دی. که شلمه پیړي د برابري غوښتنو د...

پیل پیږی وو، یوویشتمه پیړی به د برابري پیړۍ وي. نن انسانان د ګډو ارزښتونه او حقونه په بنیاد د بل هر وخت په پرتله یو بل ته نږدي شوي دي. دي حالت بشري غوښتنو او حقونو ته نړیواله ځانګړتیا ورکړي ده او هیڅکله په دي برخه کي بدلونونه د نن په شان چټک او ژور نه وو. نړیوال کیدل پیل شوي، مخ ته ځي او هیڅ ځواک او هیڅ هیواد یي مخه نشي نیولاي. بریالي هغوي دي چي له دي منځ ته راغلی حالت سره ځانونه عیار کړي.

**له اختلافونو او توپیرونو ډکه دنیا د انساني ارزښتونو واکمني ته ضرورت لري.**

په دنیا د ژوند کولو د یو شان سبک د تحمیل کولو او د انسانانو د یوهویتي کولو وخت د همیشه له پاره تیر شوی او بیا نه راګرزي. همدارنګه په دنیا کي انسان نور په هیڅ وجه د یو هویت لرونکی نه دی او انسان له یو هویتي را تیر شوی او دڅو هویتونو مجموعه دی. دلته نور انسانان په ښه او بد، تور او سپین .... نه ویشل کیږي او په طبعي توګه یو فرهنګ، یو هویت، یو دین، یوه ایدیولوژي... نه د انسانان غوښتنو ته ځواب ورکولاي شي او نه د دوي تر منځ عدالت تامین کولاي شي. د ټولنیز ژوند دا پیچیلی او څوګونی جوړښت په ټولنه کي د نویو ارزښونو د واکمني غوښتنه کوي. هغه ارزښتونه چي د انسانانو تر منځ برابري ته ځواب ووایي، هغه ارزښتونه چي د انسانانو د حقونو برابري په کي موجوده وي اوله انسانانو سره یو شان چلند وکړي او دا انساني ارزښتونه دي.

**بشري حقونه د هیڅ چا سوغات نه دي.**

بشري حقونه دهیچا، د هیڅ زورور، دهیڅ تنظیم او د هیڅ سیاسي ګوند مالکیت نه دي او نه بشري حقونه په دي چوکاتونو کي ځایږي. بشري حقونو درایه ګیري موضوع هم نه دي. څوک له ټولني پوښتنه کوي چي انسانان دي حقونه ولري او که نه، د بیان ازادي دي وي او که نه. څوک له ټولني پوښتنه کوي چي د ښځو په ضد دي تبعیض وي او که نه. څوک په دي رایه اچوي چي ښځه دوهمه درجه انسان دی او که نه، څوک په دي رایه اچوي چي ښځي د زده کړه وکړي او که نه... دا حقونه دي او هیڅکله په دي هکله رایه نه اچول او نه د چا له خوا په سوغات ورکول کیږي.

**بشري حقونه او دموکراسي.**

په هغه ټولنه کي چي ټولنیز واحد قبیله، قوم، مذهب... وي نه دموکراسي پلي کیږي او نه د بشري حقونو درناوی او مراعات کیږي. د دموکراسي هسته فرد او فردي ازادي دي. انسان هم فرد او هم ټولنیز موجود دی. انسان د فرد په توګه باید ازاد او خپلواک وي او انسان د ټولنیز موجود په توګه له نورو سره د برابرو حقونو په درلودلو سره د ټولني او سیاست په کار کي ګډون وکړي. په دي برسیره فرد یو سیاسي او حقوقي مفهوم هم دی او د فرد سیاسي ځانګړتیا په دي کي دی چي په سیاست او سیاسي پریکړو تاثیر او نفوذ ولري.

بشري حقونه او دموکراسي له یو بل نه جلاکیدونکي مفهومونه دي. دا دوه د یو بل تکمیل کونکي دي. بشري حقونه د دموکراسي په واکمني کي پلي کیږي او دموکراسي د بشري حقونو په درناوی او مراعات کولو کي استحکام پیدا کوي.

د بشري حقونو نه مراعات کول او هغوي ته درناوی نه کول د بشري حقونه ملامتي او یا د هغوي نیمګړتیا نه دی. دا د هغوي ملامتي او ګناه دی چي له بشري حقونو بده ګټه و یا سؤ استفاده کوي.

**بشرې حقونه د غرب مالکیت نه دی.**

د عدالت د تامین کولو په کارکي د بشریت تاریخ او په تېره بیا د وروستیو درو پېړیو تجربې ددې حقیقت

څرګندونه کوي چي د بشري حقونو له مراعات او درناوی پرته د عدالت تامین کول یو ناممکین کار دی. همدارنګه د عدالت او په تېره بیا د " ټولنېز عدالت" د خوندي کولو له پاره انقلابونه، پاڅونونه، شورشونه، جنګونه، شورشونو، کودتا ګاني شوې. د فرانسې انقلاب د بشري حقونو د پېژندني او مراعات کولو په لار کي ټاکونکي رول تر سره کړ. د همدی انقلاب په برکت وو چي په اساسي قانونو کي بشري حقونو ځای تر لاسه کړ.

په اوسنی نړۍ کي په هغو هیوادونو او په هغو ټولنو کي چي د عدالت پراخې او ورځني ستونزې شته دي، د بشري حقونو مراعات او درناوی نه کېږې. په افغانستان کي د عدالت " ټولنېزعدالت" د خوندي کیدو په غوښتنه پېړې تېرې شوې او یو په بل پسې واکمنان راغلل او ولاړل، یو په بل پسې ګوندونه، تنظیمونه، ډلې جوړې شوې او واک ته ورسیدې، خو په عمل کي يې نه یوازې د عدالت او ټولنېز عدالت د تامېن په لور یو قدم پورته نشواي کړاي، بلکې دوې په خپله له عدالت سره په دوښمنې کي له ځان سره پراخې، دردونکي او تاریخي بې عدالتې راوړې.

ستونزه څه ده او ولې د عدالت په تامین کي دومره لویه او تاریخي بې وسې او کمزورې شته دی؟

ځواب یودی. د بشري حقونو نه پېژندنه او د هغوي نه مراعات کول. عدالت هغه وخت تامېن کېږې چي بشري حقونه د تګلارو جوړولو، سیاستونو او قضاوت کولو په معیار بدل شي.

له بده مرغه په دنیا کي ټول دولتونه، ډلې، ګوندونه... بشري حقونه د یونیورسل حقونو په توګه نه پېژني او بشري حقونو ته د نوی امپریالېزم او یا هم په دنیا کي د غرب د نفوذ د وسیلې په ستوګه کتل کېږې. په خپله

په غرب کي هم د ښی لاس افراطي او مذهبې کړې بشري حقونو ته د شیطان د کار په سترګه ګوري.

له یوې خوا د بشری حقونو مخالفین استدلال کوي چي دا د کولکتیف په ځای د یوه ځانګړی وګړی حقونه دي چي کولکتیف کمزوری کوي او له بلې خوا دیکتاتوران، ایدیؤلوژیکي او مذهبې واکمني هڅه کوي بشرې حقونو ته نسبي بڼه ورکړې او هغه ددې او هغه فرهنګ، ددې او هغه فکري سیستم، ددې او هغه مذهب، ددې او هغو دودونو تابع وګرزوي او له بشري حقونو او ازادیو سره د هغو په بنیاد چلند او قضاوت وشي.

په طبعي توګه په نړۍ کي متفاوت او ډول ډول فرهنګونه او مذهبونه شته دي. هغه هیوادونه چي پرون یو فرهنګي هیوادونه بلل کیدل اوس په فرهنګي برخه کي پلورالستیک بڼه غوره کوي. که بشري حقونه ددې او هغه محلې فرهنګ، ددې او هغه محلي دود، مذهب ... په اساس تعریف شي بشري حقونه به نړیواله او انساني ځانګړتیاوې له لاسه ورکړې او دا د انساني فطرت خلاف کاردی.

**که قوم... د بشري حقونو په معیار بدل شي؟**

که قوم، مذهب، نژاد، رنګ، جنس، فرهنګ ... د بشري حقونو په معیار بدل شي له انسانانو سره په چلند کي به تبعیض Discrimination را منځ شي. تبعیض هغه چلند ته ویل کېږې چي له انسانانو د یاد شویو عناصر په بنیاد توپیر لرونکی چلند کېږې. تبعیض هغه چلند دي چي د یوه په ګټه او د بل په نقص تمامېږې. تبعیض په یوه ورته مسله کي له یوه لوري سره ښه او له بل لوری سره بد چلند کولو ته ویل کېږې. تبعیض په همیشني

توګه د نورو په وړاندې له منفي ذهنيت او کرکې سره ترلی يو چلند دی او دا ډول چلند په طبعي توګه بې عدالتي منځ ته راوړي او د قانون په وړاندې د انسانانو برابري له منځه وړي.

په تبعيض کې په ډېره روښانه او ښکاره توګه د کولکتيف يا په دقيقه توګه د يوه ځانګړی کولکتيف او د هغه حقونو ته برترۍ ورکول کېږي او ترنورو ښه او لوړ بلل کېږي. په تبعيضي چلند هيڅکله هم د يوه ځانګړی وګړی حقونه او ازاديګانې نه مراعات کېږي. بنسټيز لامل دادی چې دلته د قضاوت معيار د انسان په ځای د هغه هويت او د هغه بيولوژيکي او ټولنيز ځرنګوالی دی. په بل عبارت په انسان د هغه د انسانيت په بنياد نه، بلکې د هغه د رنګ، جنس، قوم، مذهب او د هغه د ټولنيز او اقتصادي موقعيت په بنياد چلند کېږي.

بشري حقونه په حقيقت کې د فرهنګ، مذهب، ملت، دودونو... په پرتله يو ابسترکت مفهوم دی. هر څوک په هر دين چې وي، په هر نژاد او قوم په پوري ترلی وي، په هره ژبه خبرې کوي، په هر ملت کې چې اوسي په لمړی درجه کې انسان دی او همدا وجه دی چې بشري حقونه نسبي نه، بلکې مطلق دي. همدارنګه ويلای شو چې فرهنګ، دين، نژاد، ژبه، ملت، قوم ... هغه څه نه دي چې د انسان فطرت بدل کاندي او يا د انسانانو د ګډو انساني آرزښتونه ځای ونيسي. که له يوې خوا په محلي او سېمېزه توګه فرهنګ، دين، نژاد، قوم، ژبه يو ځای کونکی رول لري، خو له بلې خوا په ټولنه او د انسانانو تر منځ ويشونکي او واټن ايجاد کونکي عناصر هم دي. همدا عناصر دي چې انساني ټولني ويشي، د انسانانو تر منځ واټن، کرکه، ټکرونه او جنګونه منځ ته راوړي.

په افغانستان کې د فرهنګ په ځای فرهنګونه اود مذهب په ځای مذهبونه شته دي. په افغانستان کې د قوم په ځای قومونه شته دي. که قوم معيار شي دا په پراخه توګه قومي تبعيض، که مذهب معيار شي دا به مذهبي تبعيض او که فرهنګ معيار شي دا به فرهنګي تبعيض منځ ته راوي او بې له شکه به د دا ډول عمل کولو پايلې نابرابري، ټولنيز واټنونه، سياسي مخامختياوې او وسله وال ټکرونه وي.

دا خبره ځرګنده ده چې په غرب کې د دموکراسي په برکت خلک پراخ بشري حقونه او ازاديګانې شته دي.

خو پوښتنه داده چې يوازې غربيان د بشري حقونو د لرلو حق او له هغو د ګټې اخستلو وړتيا لري؟ يوازې غربيان بايد د خپلواکو انديښنو او فکرونو خاوندان وي. يوازې غربيان بايد د خپل ژوند او خپلې راتلونکې په هکله د پريکړې کولو حق او ازادي ولري. يوازې غربيان کولای شي له يو بل سره په برابرۍ کې د واک او سياست په کار کې ګډون وکړي... د افغانستان خلک نه بايد ازاد او خپلواک وي او دوي نه بايد د خپلواکو فکرونو او انديښنو خاوندان وي. دوي نه بايد له يو بل سره په برابرۍ کې د ټولنې او سياست په کار کې ګډون وکړي. د افغانستان خلک هم دنورو انسانانو په څېرد بشري حقونو او ازاديو د لرلو او له هغو د ګټې اخستلو پوره او بشپړه وړتيا لري.

بشري حقونه هغه ګډ انساني آرزښتونه دي، کوم چې د يوه ځانګړی وګړی په وجود کې انعکاس پيدا کوي. په بل عبارت د فرد يا د ځانګړی وګړی حقونه دي چې د بشري حقونو هسته جوړوي.